مرسل: بسمل

## دبایرن مېشتو افغانانو دکولتوري ټولنې بېړنی غونډه ترسره شوه

لکه څنګه چې دګران افغانستان دلوټ اوتالان لپاره بېړنی مندې رامندې دوام لري همداسې موږ بهر مېشتي افغانان هم دخپل وجداني او ايماني مسؤليت له مخې بېړنی غونډې کوو،د سر په بيه ولسونه خبروو، ذهنونه روښانه وو ترڅوخپل ولس هوښياراوبيداروساتو د دې ترڅنګ له نړيوالوغاصبينوڅخه خپل مسلم حق غواړو ځکه خومو نن وروسته له ماسپښينه د دريو ګېنټو لپاره د يوې بېړنی غونډې په ترڅ کې د هېواد په روانو ورځنيوناخوالو، دغليم په مکر، رنګارنګ توطيو،ديوشمېر ګمارل شوواو پلورل شوو عناصرو بزدلانه کړنې تر بحث لاندې ونيوې اخېر په لاندې فيصلو باندې سلا شوو:

۱ـ موږ به په هيڅ حال دخپل ګران هېواد اوولس په اړوند له خپل همېشني دريځ څخه وا نه وړو.

۲ ـ موږ به د ګران افغانستان له مادي او معنوي شتمنيو څخه دخپلو سرونو په بيه ننګه وکړو .

۳ـ د افغانستان ټولې شتمنۍ يوازې په افغان ولس پورې اړه لري ځکه خو بايد ورونه قومونه دې ته وهڅوو چې په ګډه دملي يوالي او وروري په فضأ کې له خپلو شتمنيو څخه ساتنه وکړي ترڅوخپل کړېدلی هېواد بسيا کړای شو.

۴ ـ لکه څنګه چې د بايرن مېشتو افغانانودکولتوري ټولنې په استازيتوب مامحمدامين بسمل دجون په۱۷ مه نېټه په آزادي راديو کې دګران افغانستان دطبعي زېرمو په اړوند اندېښنه وښوده داځل په مخامخ ډول د کابل له تش په نامه او بې وسه اداري څخه جدي غوښتنه کووچې نورنودهېواد په سرنوشت لوبې ونه کړي کم له کمه دې دکانونو ماشوم ګوتې وزيرګی له بهرنيو سفرونو څخه راوګرزوي دا ځکه چې په اوسني کړکېچن حالت کې زموږ ترځمکې لاندې طبعي زېرمې مزايدې ته وړاندې کول يو ملي خيانت ګڼو او بس .

۵ ـ موږ دپرديسو افغانانوپه حيث له افغان مقاومت څخه هم جدي غوښتنه کوو چې دهر ناروا ترون په وړاندې خپل رسمي دريځ داعلاميو په ذريعه افغان ولس ته وړاندې اوله افغان ملي شتمنيو څخه په کلکه ننګه وکړي .

۶ ـ موږ په افغانستان کې دجغرافيوي ،عينې شرايطواوتوکميز ماحول له مخې دپارلماني نظام مخالفت کوو ، واليانو ته دزياتوصلاحيتونو مخالف يو، موږ د يو ربښتيني رياستي نظام غوښتونکي يو تر څو زموږ دهېواد ملي شتمني له لوټ او تالان څخه په امن وي .

۷ ـ موږ د تاريخي کندهار را روان عمليات وار د مخه محکوموو ، دا يوه داسې عام وژنه (ژنوسايد)ګڼو چې جبران به يې ښکېلاکګر او ورسره يو ځای نور اشغالګر راکوي .

۸ ـ موږ له ټولوګرانوهېواد پالوويپېانو، ويبلاګ او نورو ټولو رسنيو چلوونکو څخه په کلکه هيله کوو چې ورلېږل شوي مطالب او ليکنې لمړی په ځير سره له نظره تېرې بيا يې خپرې کړي .

**یادونـــــــــــــــه :**

يولعنتي او افغان دښمن عنصر زموږ خبرتيا د ټول افغان او روهي ويبپاڼو ته زما محمدامين بسمل په نوم ورلېږلې وه ، هلته يې په ډېره بې شرمي سره د رباب اوکباب تر څنګ د شرابو کليمه هم ليکلې وه پرون چې زموږ خواخوږو له کويټې، پېښور ، ننګرهار، کندهار، پکتيا، کابل او نورو ځايونو څخه خبر راکړ نو مو دټول افغان او روهي ويبپاڼوقدرمنو چلوونکو ته شکايت وکړ هغوی داليکنه سمه کړه اوس ددې په لټه کې دي چې دا دلستونې مار پيداکړي ځکه چې زموږ ملګري يې خورا په غوسه کړي دي دا افغان دښمن

که یو دی خو زموږ د کولتوري ټولني په لسګونو افغانان یې زخمي کړل دابه هریودخپل شخصیت داعادې حساب اوکتاب ورسره وکړي ځکه مو خپله نوبتي غونډه را مخ ته او په دې ترڅ کې موهم له خپل ځان څخه دفاع وکړه او هم مود خپلو ملي ګټو او ملي ارمانونو شمعې یو ځل بیا روښانه او ستاسو درنو افغانانو حجرو ته دروړې .

باید زیاته کړو چې دټول افغان مسؤل او پیاوړي خدمتګار چلوونکي ښاغلي شېرزاد کامه وال جدي پلټنه پیل کړې ترڅوداجعلکارپیداکړي چې بیاکوم بل پلورل شوی اولعنتي دګران افغان ولس په مینځ کې داسې توطیه ونه کړي همداراز د روهي ویبپاڼي چلوونکی ښاغلی ډاکترویال هم په دې لټه کې دی چې دا غدار پیدا کړي له دوی څخه مننه کوو او لا ډېره مننه خو له هغو خواخوږو لر ابرو افغانانو څخه کوو چې دټیلیفونونو او ایمیلونو په وسیله یې پرون موږ له دې جعل څخه خبر کړو او دا ډاډ یې هم راکړ چې له واره په دې جعل پوه شوي وو چې دا د دښمن دسیسه ده که نه چېرې بایرن مېشتي افغانان او چېرې دومره غیرمسؤلانه لیکنې ؟

دا باید هم زیاته کړو چې موږ ته تر اوسه پورې ځینې داسې مدارک په لاس راغلي چې په یوه تن پورې اړه لري کله چې یوځه نورمدارک هم لاس ته راوړو بیا به دا مکار او غداردیوې حقوقي محاکمې په رسۍ وتړو له خیره سره اوس که هرڅومره له بدلو ایمیلونو څخه کار اخلي وادېخلي اخېر به په لاس راشي .

په پای کې ټولودرنو لوستونکو او زموږ ټولو خواخوږو ملګرو ته دزړه له تله مباره کي وایو چې په جرمني کې دپردیسوبایرن مېشتوافغانانوکولتوري ټولنې دهېواد په دننه او بهر کې دومره محبوبیت پیدا کړی چې په نیمه شپه هم له لر اوبر څخه ورسره خواخوږي او ملګرتیا ښووله کیږي دا په دې ما نا چې دلوی خدای (ج) په فضل سره دغلیم کاړتوسو پخپله دغلیم کوپړۍ ورسوړې سوړې کړه .

له عزتمنو لوستونکو څخه یوه جدي هیــــــــــــله :

که په راتلونکي کې بیاهم دې پلورل شوي ګوډاګي زموږ د ټولنې او یا زما په نوم کوم داسې ناوړه څه ولیکل چې هغه زموږ له درانه افغاني دود او دوستورسره په ټکر کې وي دمهرباني له مخې په لاندې ایمیل پته خبر راکړئ :

a.c.besmel@hotmail.de

په جرمني کې دبایرن مېشتو افغانانوکولتوري ټولنــــــــــــه